# بې

# زده کړې



# پوی


لیکوال:

ډاکتر معمار حشمت الله اتمر


میاشت - مرغومی/ کال۱۱۰۳

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** بې زده کړې پوی
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پخښتۍ ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - مرغومی / کال ۱۴۰۳
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښتی...................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحیم ................................................ ۲**
**لیکي پو هه:.................................................................. ۳**
**لړلیک ...................................................................... ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید)............................................... ۵**
**د یادښتونو له پاره:....................................................... ۷**
**نا اندوله (ناول، کېسه یا داستان) ..................................... ۸**
**د چاپ شویو کتابونو لېست.............................................. ٦۷**
**د کار لاندې کتابونو لېست .............................................. ۷۰**
**د امکان او وخت په صورت کې......................................... ۷۱**
**د پختی څټ ............................................................... ۷۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.....................................................................

## تران (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره شریکه کړم. زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

........................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کېږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.......................................................................

## د یادښتونو له پاره:

۱- .........................................................................

۲- .........................................................................

۳- .........................................................................

۴- .........................................................................

۵- .........................................................................

۶- .........................................................................

۷- .........................................................................

۸- .........................................................................

۹- .........................................................................

۱۰- .........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.......................................................................

**نا انډوله (ناول، کېسه یا داستان)**

یوه کس چې نوم یې آغا ګل و، لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په یوه کلي کې ژوندګړ و.

هغه خپل کور نه درلود نو ځکه یې د یوه خان په کور کې په وړیا توګه خپلې شپې او ورځې تېروې.

هغه ډېر ښه او ربښتین سړی و.

هغه په خان باندې ډېر ګران او هغه ته یې یوه لویه کوټه او کوچنی غولی چې په کې یوه غټه د توت ونه هم وه، ورکړې وه.

کوټې بام ته هم ختینه پلغاړې درلوده.

دغه کوشني کور د خان د کور دروازی ته جوښت شتون درلود.

هغه درې زامن او یوه لور درلوده چې مشر اولاد یې هم، هماغه لور وه.

د هغه ښځې او لور تل خان د کور ویالې، چې په انګړ کې بهېده، اوبه راوړې.

هغوی به کله ناکله په ویالې کې لوښي او کالي هم منځل.

دا اجازه یواځې د آغا ګل د کورنۍ له پاره وو.

نورو تل د داسې کارونو له پاره د لویې ویالي نه چې د کلي په لوېدیځه برخه کې بهېده، ګټه اخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.....................................................................

هغه به د خان په کور کې د ننه لرګي هم ماتول، کوم چې د نورو ګاونډیانو ته اجازه نه وه.

د کلي ټولو به ده ته ماما ویل.

ده هیڅکله زده کړې نه وې کړې او نه هم ښونځي ته تللی و.

هغه څه دیني زده کړې کړې وې او یواځې په لمانځه پوهېده.

آغا ګل به د خان سره د ترکارۍ په پټي کې مرسته او دژمي په وخت کې به یې پایکوټي هم کوه.

د غنمو په وخت کې به یې لمړی په سیمه کې لو کوه او بیا به د لو کولو د پاره کابل ته، ته چیرته چې هغه د خور کور و.

هغه خپله خور د ځان د پاره بدله کړې وه، یعنی خپله خور یې د کابل په یوې ولسوالۍ کې، یوه کس ته ورکړې او د هغه خور یې ځانته کړې وه.

هغه کاریګر سړی و.

د کار د لاس راوړو نه به یې خپل ژوند تېراوه.

هغه به تل کوښښ کوه چې ډېر کار وکړي او ډیر څه وګټي.

د هغه یوه هیله دا وه چې په خپلو ماشومانو سبق و وایي او په ښونځي کې یې د ننه (شامل) کړي.

یوه ورځ د هغه کورته د تره زامن په ناڅاپي، د هغه د پوښتنې او احوال اخیستو د پاره راغلی وو.

آغا ګل خپله په کور کې نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

د هغه د تره زامن د پښتنو د رواج سره سم په دېره کې ناست وو.

غرمه نږدې شوه او آغا ګل هم کور خوا ته روان شو.

په دېرې کې يې خپل د تره زامن (تربرونه) وليدل او د هغوی سره يې روغ بړ و کړ.

غرمه شوه.

هغه کورته د ننه شو او د ښځې نه يې پوښتنه وکړه:

څه دې پاخه کړي دي؟

هغې و ويل:

پيتي!

آغا ګل په غصه شو او ويې ويل:

په کور کې بل څه نه وچې پيتي دې پاخه کړي دي؟

هغې و ويل:

نه!

يوازې وچه شوتله وه.

ته هم په کور کې نه وې چې لږ غوښه دې راوړې وی.

ما به ورته ښورا پخه کړې وه.

هغه څه و نه ويل:

تۍکر(دسترخوان) يې واخيست او دېرې ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

بیا یې پر خپل مشر زوی غږ کړ:

د پیتیو کاسه را واخله او زما پسې دېرې ته راشه.

هغه هم کاسه واخیسته او دېرې ته روان شو.

ټوکر یې د جومات په انګړ کې اوار کړ.

بیا یې ډوډۍ پر ټوکر کېښوده.

زوی یې هم د پیتیو کاسه پر ټوکر کېښوده.

بیا آغا ګل و ویل:

خپل لاسونه په ویاله کې پرېمنځئ.

د تره ځامن یې اوچت او ویالې خوا ته روان شوو.

لاسونه یې پرېمنځل، بیا بېرته راغلل.

د ټوکر تر خوا کېناستل.

بیا یې زیاته کړه:

د تره زو!

په کور کې پیاز او مالګه لرې؟

هغه و ویل:

هو!

بیا د تره زوی یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الک ولیږه چې را یې وړي.

هغه خپل زوی ته و ویل:

چابک شه!

کورته لاړ، پیاز او مالګه راوړه.

الک کور ته لاړ او لږ ځنډ وروسته یې پیاز او مالګه راوړه.

بیا آغا ګل د جبه چاکو را و وېست، پیاز یې پاک او ټوټې ټوټې کړ.

هغه یې پر ټوکر کېښود او مالګه یې پرې ودوړوله.

بیا یې و ویل:

دا دی!

کولای شئ چې ترې خوند واخلئ.

هغوی ډوډۍ وخوړه.

بیا آغا ګل کورته د ننه شو او ښځې ته یې و ویل:

زما تربرونو کڼې وړې خبرې کوې.

تا بې تبي پیتي پاخه کړي و.

هغې و ویل:

لمړی:

په کور کې څه نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم:

زه څه پوهېدم چې ستا تربرونه راغلي دي.

ماشومانو، ما ته و ویل چې:

دېرې ته مېلمانه راغلي دي.

ما هم چې څه درلودل، هغه مې پاخه کړل.

بیا آغا ګل و ویل:

اوس تربرونه مې په دېرې کې ناست دي.

ژر چای دم کړه!

هغې و ویل:

چای تیار دی.

لږ ګړه ماته کړم، بیا یې یوسه.

بیا آغا ګل و ویل:

دا پیالې دې ولې څو رنګه دي؟

هغې و ویل:

همدومره پاتې دي.

پیسې دې چې تر لاسه کړې، یوه درجن واخله، چې یو رنګه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په غصه شو.

ويې ویل:

چای وړم، بیا به تا سره و ګورم.

مجمه یې واخیسته او د کوره و وت.

چای یې دېرې ته یووړ.

تربرونویې چای و څښل او یوه ګړی وروسته پاڅېدل.

آغا ګل سره یې خدای پاماني وکړه او خپلو کورونو خوا روان شول.

آغا ګل لوښي او ټوکر راټول بیا کور ته روان شو.

ښځه یې پر تناره ډوډۍ پورې کوې.

آغا ګل لوښی او ټوکر کېښود او په غصه د ښځې خوا روان شو.

بې له پوښتنې یې پرې وار وکړ.

نږدې وه چې په تناره کې و غورزېږي.

هغې ځان کلک او له تناره پاڅېده.

بیا یې له ویښتانو ونیوه او پر لغتو یې پرې ګذارونه پیل کړل.

هغې چیغې پیل کړې.

په دې وخت کې نورې کلیوالې ښځې راټولې او آغا ګل ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای نه وډار شه!

هغه امیدواره ده.

د هغې په ګېډه کې ماشوم دی.

بیا آغا ګل و ویل:

زما تربرونه راغلي وو.

هغې بې تبي پيتي پاخه کړي و.

بیا ښځو و ویل:

بس کړه!

وهل بس کړه!

مونږ به ترې پوښتنه وکړو.

ښځو پوښتنه وکړه:

آغا ګل ریښتیا وایي؟

هغې و ویل:

نه!

په کور کې بل څه نه و.

آغا ګل هم د باندې و.

زه هم نه پوهېدم چې څوک راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ښځو و ویل:

د خدای په قار(قهر) ککړ شئ.

دا دې دومره کلکه وهلې ده.

کېدای شي، ماشوم یې له منځه لاړ شي.

هغه و ویل:

هیڅ بلا یې نه وهي.

هسې بانې ( بهانې) کوي.

ښځو، هغه یې له وهلو خلاصه کړه.

څو دکیکې وروسته پرې درد راغی.

ښځو د امین ګل مور ته غږ کړ کومه چې د سیمې کابله (قابله یا د زېږون مرسته کونکې) وه.

هغه راغله او د آغا ګل د ښځې سره یې مرسته پیل کړه.

مرستو کومه ګټه و نه رسوله.

د هغې ماشوم مړ دنیا ته راغی.

په دې وخت کې آغا ګل د کوره وتلی و.

بیا هغه د آغا ګل پسې لاړه او هغه ته یې و ویل:

تو لانت دې پر تا وي.

دا دی، الک دې مړ پیدا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس کور ته راشه د ګور او کفن غمه يې وکړه.

په دې وخت کې آغا ګل په ژړا او خورا پښيمانه شو.

څه يې په لاس نه راتلل.

کور ته د ننه شو.

د کلي نارينه راټول شوو.

بيا د کلي ملا هم ورسېد.

ماشوم ته يې لمبا بيا کفن ورکړ او اديرې خوا روان شوو.

نارينه له اديرو بېرته ستانه شوو.

د کلي ښځو د آغا ګل ښځې ته، خواړه تيار کړل.

او څو ورځې يې پالنه وکړه تر څو په پښو ودرېده.

څه وخت تېر شو.

هغه د سترګو په يوه ناروغۍ اخته شو.

د هغه د سترګو نه به اوښکې راتلې.

هغه د درملنې وس نه درلود، او نه هم په نږدې سيمه کې کوم د سترګو روغتون و.

د داسې درملنې له پاره اړين و چې کابل ښار ته لاړ شي او د سترګو په روغتون کې چې د دارلامان په واټ کې شتون درلود، لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د درملنې، کابل ښار ته د موټر کرایې او کوټې نیونې پیسې نه درلودې.

نو ځکه هغه په ځایي طبابت لاس پورې کړ او په سترګو کې به یې رانجه پورې کول.

دا کار هغه ته کومه ګټه نه رسوه.

خلکو ده ته د آغاګل په عوض، ژاولن ویل، کوم چې د اسلامي او انساني ادب نه لرې خبره او د تحقیر(ذلت) سبب ګرځېده.

هغه به د چا په خبرو پسې نه ګرځېد او خپل کار به یې کوه.

یوه ورځ چې د یوه خان زوی د کابل ښار نه د ژمنیو رخصتیو تېرولو له پاره راغلی و، غوښتل یې چې څه نوې لوبه زده کړي.

الک ته د کلي همزولو د خره سپرېدل ښوول.

کلي الکان هم خره د سپرېدلو په تخنیکونو نه پوهېدل چې د خان زوی ته یې ور زده کړی.

الکانو د خره سپرېدو سره عادت کړی و او کولای شوچې په ډېره ساده توګه پر خره سپور او ګټه ترې واخلي.

د خان زوی کوشنی و.

الکانو به غوښتل چې هغه په یوه کوچني خره یا کوټي سپور شي، چې د لوبېدو په وخت کې ژوبل نه شي.

د خان زوی څو ورځې تمرینونه وکړل او ونه توانېد چې په خره سپور او یا خرسواري زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.....................................................................

یوه ورځ چې د خان زوی غوښتل د کلي مخ یا لوې دېرې کې په خره سپور شي.

د آغا گل ورته پام شو.

الک نه شو کولای چې پر خره سپور شي.

هغه ورنږدې شو او ویې ویل:

خرسواری به خود هنر کار داره
مرزایی نیست که پړ پړ میخوانی

بیا آغا گل هغه نور هم نږدې شو او زیاته یې کړه.
دا کوټی دی او تر اوسه باري شوی نه دی.
ته نه شې کولای چې پر هغه سپور شې.

الک و ویل:
څنګه وکړم چې پر خره سپور شم؟

آغا گل و ویل:
په کوز کلي کې یوه کوچنی خر دی، خان صاحب ته و وایه چې هغه درته وغواړي.
بیا زه درته خره د سپرېدو چل ښیم.

الک ومنه.
هغه کورته لاړ او د خان نه یې د کوچني خره غوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان خپل کروندګر ته غږ کړ او ویې ویل:
ژر کوز کلي ته لاړ او ژیړګل ته د کوچني خره غوښتنه وکړه.

کروندګر ومنه.
هغه کوز کلي ته روان شو.

الک و ویل:
زه هم درسره ځم.

کروندګر و ویل:
نه!
هلته غټ غټ سپیان دي.
کیدای شي، تا وداړي.

بیا الک و ویل:
خیر!
زه به په دېرې کې ستا انتظار وکړم.

کروندګر خوشحاله شو او الک ته یې و ویل:
سمه ده!
زه به ډېر ژر بېرته راشم او خر به هم له ځانه سره راولم.

الک په دېرې کې په ټال خوړلو بوخت شو.
دوې ګړۍ تېرې شوې.
د کروندګر کوم درک نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې خان هم دېرې ته راغی.
هغه د الک نه پوښتنه وکړه:
خر یې راوست؟

الک و ویل:
نه!
تر اوسه یې نه دی راوستی.

خان خپلې ګړۍ ته وکتل.
بیا یې الک ته و ویل:
پوره دوې ګړۍ شوې چې کروندګر تری تم شوی دی.
کېدای شي چېرته په غورو کې ډوب شوی او خر یې له یاده وتی وي.

الک و ویل:
کېدای شي.
هغه ستا کروندګر دی.

په دې وخت کې کروند ګر ښکاره شو او د خره غاړه کې یې د شولو د واښو وندنی اچولی او هغه د دېرې خوا ته روان دی.

کروندګر ورو، ورو دېرې ته نږدې شو.

خان و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته ورک وې؟
پوره دوې ګړۍ تېرې شوې.

کروند ګر نور هم نږدې شو.
هغه خان ته سلام واچاوه.
بیا یې و ویل:
خر د ژېړګل زوی، ژرندې ته وړی و.
زه هم ورپسې لاړم.

د ژېړ ګل زوی ماته و ویل:
لږ صبر وکړه!
اوړه لږ پاتې دي.
اوړه به خلاص، بیا به د اوړو ګوډی په خره بار کړو.
اوړه به کورته یوسم، بیا به خر تا ته در کړم.

په دې وخت کې آغا ګل هم راورسېد.
هغه کروند ګر ته و ویل:
د خره کته چېرې ده؟
الک نه شي کولای پر خره سپور شي.
هغه ښاري الک دی او هیڅکله پر خره نه دی سپور شوی.

خان و ویل:
هو!
آغا ګل رښتیا وایي.
اله !

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

بېرته لاړ شه او د خره کته راوړه.

کروندګر بېرته کوز کلي ته روان شو.
هغه د زېړ ګل ور (دروازه) و ټکوه.
ژېړ ګل د باندې شو.

کروندګر هغه ته سلام واچاوه.

ژېرګل هم د هغه سلام ته وعليکم و ويل.
بيا يې زياته کړه.
خيرت خو به وي، چې سا دې هم بنده، بنده کېږي؟

کروندګر و ويل:
خيريت دی.
خان صيب ولېږلم چې د خره کته راوړم.

هغه په خندا شو او ويې ويل:
د ننه راشه!
کروندګر کور ته د ننه شو.

ژېړ ګل هغه ته و ويل:
د تناره کوټې سره د هغه خره کته پرته ده، ته کولای شې چې هغه واخلې او د ځانه سره يې يوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

..............................................................................

کروند ګر د تناره کوټې ته نږدې شو، کته يې د ځمکې نه اوچته او په اوږه يې کېښوده.
بیا د کوره  د باندې شو.
مخ په ډېرې يې حرکت وکړ.
ډېرې کې ورته خان، آغا ګل او الک انتظار کوو.

کروندګر ډېرې ته ورسېد، کته يې په ځمکه کېښوده.
آغا ګل ته يې غږ کړ:
ته کټې خوا ته و درېږه.
زه خر راولم.

کروندګر خر ونيو او ډېرې ته يې راوست.
بیا يې آغا ګل ته و ويل:
ته خر ونيسه او زه به پرې کته وتړم.

آغا ګل و منه.
هغه خر ونيو او کروندګر پرې کته وتړه.

بیا اغا ګل و ويل:
الکه دلته راشه!

الک نږدې شو.
آغا ګل و ويل:
مخکې له دې چې پر خره سپور شې، لمړی د خره کيڼ خوا ودرېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.....................................................................

د خره کينۍ غوږ پر خپل کينۍ لاس و نيسه او د هغه غوږ پرې لکه ګړی د حرکت په شان تاو کړه.

بيا راسته پښه دې جګه او پر خره سپور شه!
کوم وخت چې پر خره ښه سپور (کيناستې) شوې، د خره غوږ خوشې کړه.
کومې خوا دې چې غوښتل، خر بوزې د هغه په مخالفې خوا په اورمېږ و وهه.
خر بيا ستا د خوښې خوا ته ځي.
که و غواړې چې خر تېزه منډه کړي، ته کولای شي خر په شا په کوچنۍ لښته و وهي او يا هم دواړه پښې دې، کومې چې د خره د خېټې په دواړو خوا زوړنډې دي، سره نږدې کړې او بيا يې بېرته کړې، خر منډې وهي.
کوم وخت دې چې غوښتل خر ودروې، بيا ورته اوش و وايه.
خر درېږي.
ته کولای شې خر د غوږ نه ونيسې او غوږ يې پرې تاو او ټينګ ونيسې، بيا ترې ښکته شې.
کوم وخت چې ترې ښکته شوې، بيا د خره غوږ خوشې کړه.

بيا يې د الک نه پوښتنه وکړه:
پوی شوې؟

الک و ويل:
هو!
پوی شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

آغا ګل و ویل:
سمه ده!
اوس پر خره سپور شه.

الک و منه او څرنګه چې هغه ته آغا ګل سبق ویلی و، پر خره سپور شو.
هغه څو دورې په ډېرې کې وکړې.

بیا آغا ګل و ویل:
د نن له پاره هم دومره بس ده.
اوس ماښام نږدې دی.
ښه به وي چې خر ودروې.

الک خر ودراوه او له خره ښکته (کوز) شو.

بیا آغا ګل و ویل:
آفرین!
دا دی، اوس دې خر سواري هم زده کړه.
بیا به کابل کې خپل همزولو ته وایې چې، په کلي کې مې خر سواري هم یاده کړه.

الک په خندا شو او ویې ویل:
هو!
آسانه کار نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

......................................................................

خان پر کروندګر غږ کړ:
خر بېرته یوسه!
ژېړګل ته و وایه چې، سبا مازیګر یې دېرې ته راولي، تر څو الک پرې تمرین وکړي.

کروندګر ومنه.
هغه د خره سره کوز کلي خوا روان شو.

څه څنډ وروسته کوز کلي ته ورسېد.
د زیړګل د کور ور یې و ټکوه.
د ژېړ ګل زوی د باندې شو او کروندګر ته یې سلام واچاوه.

کروند ګر هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.
بیا کروند ګر د ژېړ ګل زوی ته و ویل:
مننه کوم.
دا دی خر دې و نیسه.
همدا راز خان صیب ویل چې:
سبا مازیګر هم خر بر کلي ته راوله، چې الک پرې سپور او تمرین وکړي.

هغه ومنه!
بیا یې و ویل:
سمه ده!
زه به یې په خپله راولم او څه نور چلونه به هم ورته زده کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

......................................................................

کروند ګر مننه وکړه، زیړګل د زوی نه یې خدای پاماني واخیسته او بر کلي ته روان شو.
څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې هغه بر کلي ته ورسېد.
لمړی دېرې خوا روان شو، چېرته چې خان او آغا ګل هلته وو.
کروند ګر نږدې شو او سلام یې واچاوه.

خان د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.
بیا یې و پوښتل:
تا ژیړګل ته و ویل چې سبا هم خر راولیږې؟

کروند ګر و ویل:
هو!
د ژیړ ګل زوی و ویل چې زه به سبا او څو ورځې نورې هم خر د مازیګر خوا دېرې ته راولم تر څو الک پرې سپور او خر سواري په ښه توګه زده کړي.
بیا یې زیاته کړه:
زه به ورته نور چلونه هم و ښیم تر څو پوخ استاد شي.

خان د کروندګر نه مننه وکړه.
په دې وخت کې د کلي ملا امام ماښام د لمانځه آذان وکړ، خان او نور کسان هم راټول او جومات ته د لمانځه ادا کولو له پاره د ننه شول.

لمونځ خلاص شو.
هر څوک کلي ته د ننه او خپلو کورونو خوا روان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

د ژېړګل زوی به هر مازیګر خپل خر بر کلي ته راوسته او د الک سره به یې د خره په سپرېدو کې مرسته کوه او هغه ته به یې نوي چلونه هم ښودل.

پوره یوه میاشت تېره شوه.
د سړو سیمو د ښونځیو، پېل وخت ورسېد.

الک هم مجبور و، چې کابل ته لاړ شي.
دوې ورځې وروسته هغه کابل ته لاړ.

ښونځي پیل شوو.
الک به نورو ټولګیوالوته د خره د سپرېدو کیسې کوې.
د هغه کیسې د نورو له پاره ډېر په زړه پورې او د خندا وړ وې.

ځو کاله تېر شو.
الک لږ څه غټ (ستر) شو.
بیا یې د ژمنیو رخصتیو وخت راورسېد.
پریکړه یې وکړ چې بیا خپلې پلرنۍ سیمې ته لاړ شي.

الک خپلې مور ته و ویل:
هسې د ژمي رخصتۍ را ورسېدې.
غواړم سبا وختی د دوې میاشتو له پاره خپل کلي ته لاړ شم.
مور یې ورته و ویل:
ستونزه نه شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامنوني به نه کوي.
تر څو خلک د ستونزو سره مخامخ نه کړې.
الک ومنه.
بيا مور يې زياته کړه:
دوې مياشتې چې تېرې شوې، خپله کابل ته راشه.
الک و ويل:
سمه ده مورې.
ماښام شو.
الک د شپې وختي بيده شو او سهار وختي د لمونځ ادا کولو له پاره پاڅېد.
لمړی يې اودس وکړ بيا وروسته يې د انګړ ور(دروازه) خلاصه او جومات ته لاړ، کوم چې د هغه د کور خوا ته ډېر نږدې و.

الک لمونځ په جمع ادا بيا بېرته کور ته ستون شو.
د سهار چای يې و څښنه.
بيا يې د مور، مشرې خور او مشر ورو نو نه خدای پاماني واخيسته او د کور نه د باندې شو.
په دې وخت کې د هغه پلار په دولتي دندې کندوز ښار کې بوخت و.

الک لمړی د کلي پوخ سړک ته ورسېد په ملي بس کې سپور او د ښار د پل و باغ عمومي سيمې کې ترې کوز شو.

بيا په پښو د پل محمود خان خوا ته روان شو، چېرې چې د هغه د ولايت د موټرو اډه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.........................................................................

هغه په لاره کې چابک ګامونه اخیستل تر څو وختي خپل کلي ته ورسیږي.

څو دکیکې وروسته اډې ته ورسېد.
هغه په بس کې وخوت او د کړکۍ خوا ته کېناست.
په هغه وخت کې د بس کرایه شل افغانۍ وه.

موټر ډک شو او ډرېور غږ کړ:
څوک خو به نه وي پاتې؟

خلکو و ویل:
نه!
ټول پوره دي.

بیا کلینډر و ویل:
یوه دعا د خیر!

خلکو د سفر دعا وکړه او موټر هم د سرای نه و وت.
پاخه سړک ته و وت او مخ په زاړو مکرویانونو یې حرکت وکړ تر څو بیا د پول نه واوړي او د پلچرخي سړک ته موټر سم کړي.

موټر(بس) نوی و، او خورا ښه مزل یې کوه.

درې ګړۍ وروسته د قرغیو ولسوالۍ د سرخکانو پول نه واوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې الک پر ډریور غږ کړ:
موټر وانه!
د ګوله خېلو سیمې کې موټر ودروه.
زه ښکته کېږم (کوزیږم).
موټروان و ویل:
سمه ده الکه!

موټر سیمې ته ورسېد.
کلینډر غږ کړ:
هم دلته کوزیږې؟
الک و ویل:
هو!
الک د موټر نه ښکته شو.
د هغوی کلي ته د اوس په شان پوخ سړک نه و.
ټول کلیوال به د ګوله خېلو سیمې کې د موټر نه ښکته کېدل او په پښو به خپلو کورونو ته تلل.

الک هم په پښو خپل کلي خوا روان شو.
نیمه ګړۍ وروسته کلي ته ورسېد.
وخت غرمه وه.
هغه هم ډېر وږی شوی و.
د کشر خان کور ته ورسېد.
هر چا به ورته ویل:
ستړی مه شې.
په خېر راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يواځې راغلې يې او که نور څوک هم در سره شته؟

هغه به ويل:
مننه کوم.
يواځې راغلی يم.

الک د کشر خان انګړ ته د ننه شو.

د کشر خان ښځې سترګې په هغه ولګېدې.
هغه ور نږدې شوه.

الک ورته سلام  واچوه.
هغې سلام ته يې وعليکم و ويل.
او د هغه سر يې مچو کړ.

بيا يې و ويل:
ته پر تږغر کينه!
زه به اوس ډوډۍ و باسم او ټول به يې و خورو.
بيا يې الک ته و ويل:
کولای شې دوې نارنج هم له ونې وشکوې.
الک د نارنج غټې ونې خوا روان شو، کومه چې د بيالې په غاړه شتون درلود.

هغه دوې دانې نارنج وشکول او بېرته ټغر خوا، راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

د کشر خان ښځې ټوکر اوار کړ.
هغې کرت او وګره پخه کړې وه کوم چې د الک ډېره خوښېده.
د وګرې(اوګرې) سره تازه شوتله او ګلپي هم و.

هغې الک ته و ویل:
مخ او لاس دې په ویاله کې پرېمنځه!
ژر بېرته راشه چې کتغ سوړ نه شي.

الک خپل مخ او لاسونه په ویالې کې پرېمنځل او ټوکر(دستر خوان) ته نږدې شو.

هغې نارنجان پرې او پر ټوکر یې په غاب کې کېښودل.
د تناره ګرمه (توده ) ګرده ډوډۍ یې هم را وخیسته او الک خوا ته یې نږدې کړه.

په دې وخت کې کشر خان هم ورسېد.

لمړی ویالې خوا ته روان شو.
لاسونه یې په ویاله کې پرېمنځل او د ټوکر (دستر خوان) خوا ته کېناست.

هغوی په خورا خوند د کرت او وګرې په خوړلو پیل کړ.
هغوی به سابه او ګلپي هم خواړه او نارج به یې پرې زبېښه.

هغوی ټول ماړه او د شکر دعایې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کشر خان ښځې ټوکر ټول کړ.
بیا یې شین چای د ګړې (ګوړې) سره راوړ.
چای هم ډېر خوندور و.

لږ ځنډ وروسته کشر خان و ویل:
راځه چې د باندې دېرې خوا ته لاړ شو.

الک پاڅېد.

خان مخکې او الک ورپسې روان شو.
هغوی د کلا و وتل.
دېرې کې پر کټ کېناستل.

کوم چا چې الک نه و لیدلی، هغه ته به یې ستړي مشې (ښه راغلاست) ویل او هغه د کورنۍ پوښتنه به یې کوه.

الک به هم مننه کوه.
وخت تېر شو، مازیګر بیا ماښام شو.
د ماښام د لمانځه نه وروسته هغه د کشر خان سره یو ځای کورته د ننه شو.

کوټې ته د ننه او د الکین خوا ته کېناست.
په کلي کې برېښنا، نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی
.....................................................................

چاه الکین او چا به د تیلو موړک څراغ بل کړی و.
ټولو به د شپې ډوډۍ د ماښام لمونځ نه وروسته خوړه، تر څو د رڼا اړتیا ورته لږه وي.

خلک به وختي ویده کېدل او سهار به هم وختي له خوبه پاڅېدل.
ګړۍ (ساعت) هم د اوس په شان ارزانه او پرېمانه نه ول.

ټولو خپل ځانونه د چرګانو د آذانونو سره سم عادت کړي وو.

الک هم د شپې د ډوډۍ خوړو نه وروسته، وختي بیده شو.
هغه د نورو په شان له خوبه وختي پاڅېد.
اودس یې د انګړ په ویاله کې وکړ.
بیا لمانځه ادا کولو د پاره کلي نه و وت.
هغه د کلي جومات ته لاړ او الته یې په جمع لمونځ ادا کړ.
بیا بېرته کور ته راغی.
په انګړ کې یې د بتو(بتکو) ننداره کوه، کومې چې د انګړ په ویالې کې یې لامبو وهې.
بتې بچیان هم درلودل چې خورا ښکلي او په زړه پورې ول.
هغوی د خپلې مور پسې لامبو وهې.
کله به یې مهیانو بچو نیولو له پاره اوبو لاندې ِغوټې هم وهې.
الک په ننداره بوخت و.
شاو خوا چرګان، چورګوړي، قانسونه، پیل مرغان او کوترې ګرځېدې.

په دې وخت کې کشرخان کورته د ننه شو او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغان څنګه دي؟
الک و ویل:
خورا ښکلي او په زړه پورې دي.

بیا الک وپوښتل:
هګۍ اچوي؟

کشر خان و ویل:
هو!

الک و ویل:
دا قانسونه او پیل مرغان ښیم.

کشر خان و ویل:
هو!
نوي په هګیو راغلي دي.

بیا کشر خان د خپلې ښځې نه پوښتنه وکړه:
د پیل مرغانو اوقانسونو هګۍ شته؟

هغې و ویل:
هو!
کشر خان و ویل:
نن سهار د چای په وخت کې الک ته د پیل مرغ دوې هګۍ و ایشوه،
او سبا به ورته د قانسو هګۍ و ایشوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

بیا به وروسته په یوې ورځ د بتې او په بله ورځ هغه ته د چرګانو هګۍ و ایشوې.

هغې و ویل:
سمه ده!
زه به کوښښ وکړم تر څو الک، خوشحاله وې.

بیا یې الک ته و ویل:
ته کوټې ته لاړ شه او زه به درته هګۍ وایښوم.

الک ومنه او کوټې ته د ننه شو.

د کشر خان ښځه کوټې ته راغله او ټوکر(دسترخوان) یې اوار کړ.
د ټوکرۍ نه یې د تناره توده ډوډۍ واخیسته او پر ټوکر یې کېښوده.
هغې خپلو ماشومانو ته هم غږ کړ او ویې ویل:
هله ژر شئ!
ویالې ته لاړ، خپل مخ او لاسونه الته پرېمنځئ، بیا ژر بېرته راشئ
زه به ستاسو په پیالو کې تودې شیدې تویې (واچوم) کړم.

کوچنیان ویالې خوا ته روان شوو.

د کشر خان ښځې، شیدې په پیالو کې و وېشلې.
لږ کوچ یې هم په غاب کې د الک مخې ته کېښودل.
بیا یې پرې شکره وشینده.
هغه ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته په خوړو پيل کړه، زه به درته هګۍ هم راوړم.

هغه د ځايه پاڅېده او د نغري خواته روانه شوه.
هګۍ يې د کټوې نه په کاچوغې واخيستې او بل لوښي کې يې کېښودې.
بيا د سړولو د پاره وياله ته روانه شوه.
د ويالې پر ژۍ کېناسته او لوښی يې اوبو ته کوز کړ.
هګۍ يې سړېکړې، بېرته پاڅېده او د کوټې خوا ته روانه شوه.
هګۍ يې د الک مخې ته کېښودې.

الک و ويل:
او!
دا څومره غټې هګۍ دي.
ما هيڅکله داسې هګۍ په سترګو نه وې ليدلې.

کشر خان و ويل:
د غټو مرغانو هګۍ هم غټې وي.

الک يوه هګۍ له پوسته کړه او غاب کې يې کېښوده.
بيا يې و ويل:
چاړه شته؟
ماشومانو و ويل:
هو!
شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

.......................................................................

الک و ویل:
و ویل:
ماته یې راوړه.
یوه ماشوم پاڅېد او چاړه یې راوړه.

الک چاړه واخیسته او هګۍ یې پرې، ټوټه ټوټه کړه، مالګه یې واخیسته او پر هګۍ یې وشینده.
بیا یې پر خوراک پیل کړ.

دا سهار چای د کابل ښار نه ډېر توپیر درلود، خورا خوندور او قوي و.
چای نه وروسته د کوټې نه د باندې شو، څو دکیکې یې په انګړ کې تېرې، بیا د انګړ نه د باندې او وروسته د کلا نه هم و وت.
دېرې ته لاړ.
التہ د خپلو همزولو سره په کیسو او لوبو بوخت شو.
په دې وخت کې هغه بوډا کروندګر راغی او الک ته یې ښه راغلاست و وایه.

الک هم د هغه نه مننه وکړه.
بیا یې په یاد شو چې درې کاله مخکې یې هغه ته کوچنی خر د سپرېدو له پاره کوز کلي نه راوستی و.
الک کروندګر ته و ویل:
کیدای شئ هغه کوچنی خر ماته له کوز کلي راولې تر څو پرې سپور او تمرین وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کروندګر خپه شو او ویې ویل:
هغه کوشنی خر پروسږکال مردار شو.

الک و پوښتل:
هغه مو چېرته خخ (ښخ) کړی دی.
غواړم د هغه قبر ته لاړ شم.

کروندګر د خپګان په حال کې په خندا شو.
هغه الک ته و ویل:
دلته خر څوک نه خخوي (ښخوي).

بیا الک و پوښتل:
د هغه مړی مو څه کړ؟

کروندګر و ویل:
د هغه په پښه کې مو پړی واچوه او د سیمې نه لږ لرې مو په بنجر پټي کې وا چاوه.
د شپې له خوا ورته د کلیو سپي را ټول شول او د هغه د غوښو په خوراک یې پیل کړ.
د ورځې خوا سهار وختي ورته غټ مرغان راکوز شول.
دې مرغانو ته زمونږ په سیمه کې لوڅ سري مرغان (کل مرغ) وایي.
دا مرغان ډېر غټ او اوچته الوزي.

الک و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مرغان چېرته ژوند کوي.

کروندګر و ویل:
دا مرغان په لوړو غرونو کې ژوند کوي.

الک و ویل:
هغوی څرنګه پوی شول چې خر مردار شوی او چېرته دی؟

کروندګر و ویل:
هغوی شپه په غرونو کې تېروي، د ورځې خوا اوچته الوزی او په اوا (هوا) کې دورې وهي.
هغوی ډېرې تېزې سترګې لري او کولای شي چې د ځمکې پر مخ ښکار و ویني.
کوم یو یې چې ښکار پیدا کړي، د ښکار په مخ تیتېږي (راښکته کېږي) نور یې هم د هغه پسې ځمکې او د ښکار خوا ته راښکته کېږي.
هغوي د غټو مشوکو په درلودلو سره کولای شي د مړه شوي ایوان(حیوان) غوښې و شکوي او ویې خوري.

الک و پوښتل:
لوخ سري مرغان به د پیل مرغ (فیل مرغ) په اندازه وي؟

کروندګر و ویل:
لږ څه به ترې غټ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

..................................................................................

الک و ویل:
دومره چې غټ دي، څنګه الوزي؟

کروندګر و ویل:
هغوي لمړی په ځمکه کې منډې وهي، ورو، ورو وزرونه غوړوي
او پښې له ځمکې لوړوي.
وروسته له ځمکې لوړيږي.
بیا کروندګر و ویل:
د الوتکې الوتنه دې په اوايي (هوايي) ډګر کې لیدلې ده؟

الک و ویل:
نه!
مګر کیسه مې اورېدلې ده.
اوس پوی شوم.
ټول د الله (ج) قدرت دی.

بیا الک و پوښتل:
اډوکي يې څه شول؟

کروند ګر و ویل:
هغه سورګل د ډم (ناین، نايي یا سلمان) زوی دې په یاد دی؟

الک و ویل:
هو!
په یاد مې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه څه شوي دي؟
کروندګر و ویل:
هیڅ!
کومه خبره نه شته!
هغه اړوکې ټول او په بازار کې يې و پلورل.
په پیسو يې تیل او مالګه واخیسته.
خبرو او اترو دوام درلود چې په دې وخت کې آغا ګل هم ورسېد.

اغا ګل ویل:
خبری مو خلاصې شوې؟

کروند ګر و ویل:
هو!
زمونږ خبرې خلاصې شوې.
بیا يې زیاته کړه، تا څه ویل غوښتل؟

آغا ګل و ویل:
نه!
ما څه خاص ویل نه غوښتل.
غوښتل مې چې د خان زوی ماته لیک (خط) ولیکي.
بیا يې و ویل:
راځه!
پر کټ کینه!

الک پر کټ کیناست او آغا ګل ته يې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سره خو اوس کاغذ اوکلم (قلم) نه شته.
آغا ګل و ویل:
کومه ستونزه نه شته.
زه کورته ځم او ډېر ژر به کاغذ او کلم (قلم) راوړم.

الک و ویل:
ته یې په خپله ولیکه!
پر مایې ولې لیکې؟

آغا ګل و ویل:
زه خو بې زده کړې یم.
زه نه ښونځي ته تللی یم او نه مې په جومات کې زده کړې، کړې دي.
که زما لیک او لوست زده وی، ته به مې نه په عذابه وې.

الک و ویل:
سمه ده!
زه خو په پښتو ژبه نه شم لیکلی.
زه ښونځی په دري (پاړسي) ژبې وایم.

آغا ګل و ویل:
کومه ستونزه نه شته.
په پاړسي یې ولیکه.

الک و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!
کاغذ او قلم راوړه.
آغا ګل کلي ته د ننه شو.
څه ځنډ وروسته بېرته را و وت.
یو زوړکلم (قلم) او کاغذ یې راوړ.
بیا یې الک ته ورکړ چې خط ولیکي.

آغا ګل به ویل او الک به هم لیکنه کوه.

لیک خلاص شو.

الک آغا ګل ته و ویل:
همدومره و.
هغه و ویل:
هو!
همدومره و.

الک لیک آغا ګل ته ورکړ او ویې ویل:
دا دی د ستا لیک.

آغا ګل و ویل:
لیک بېرته واخله!

الک حیران شو او ویې پوښتل:
څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی
......................................................................

آغا ګل و ویل:
کومه خبره نه شته!
مخکې له دې نه چې لیک واخلم او ویې لېږم، ته ما ته دا لیک ولوله چې کومې تېروتنې او ستونزې په کې نه وي.

الک لیک واخیست.
ډېر حیران شو.
لږ سوچ یې وکړ او په زړه کې یې و ویل:
دا چې بې زده کړې دی، څنګه کولای شي زما تېروتنې سمې کړي.
هغه خو په دري (پاړسي) هم نه پوهېږي.
بیا یې سوچ بند او د لیک په ویلو یې پیل کړ.

الک به لیک لوسته او آغا ګل به د هغه نیمګړتیاوې په ګوته کوې او هغه ته به یې ویل:

دا لغت ناسم دی ته باید داسې ولیکې، ځکه چې هغه سړی مشر او د احترام وړ دی.

الک تېروتنې سمې کړې بیا یې آغا ګل ته لیک ورکړ او ویې ویل:
دا دی.
هر څه سم او د ستا په زړه شو.

آغا ګل و ویل:
اوس دا بل کاغذ واخله او د پخواني کاغذ نه یې، دغه نوي کاغذ ته ولېږدوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې بد ښاري؛
کېدای شي چې هغه کس ما او ستا پورې و خاندي.

الک ومنه.
هغه ټول لیک بیا (له سره) ولیکه.
بیا یې آغا ګل ته ورکړ.

آغا ګل و ویل:
دا دی، اوس ښه شو.
د الک نه یې مننه وکړه او د هغه سر یې مچ کړ.

آغا ګل لیک واخیست، په سبا یې واستاوه او ډېر خوشحاله شو.

څو ورځې تېرې شوې.
د لیک ځواب راغی.
آغا ګل د خان زوی پسې خپل مشر زوی ولیږه.
هغه خپل زوی ته و ویل:
خان زوی ته و وایه چې یو ځل دلته راشي.

هغه لاړ او الک ته یې و ویل:
زما پلار غواړي چې ته زمونږ کور ته راشئ.

الک ومنه.
هغوی دواړه د آغا ګل کور خواته روان شوو.
د انګړ مخ ته آغا ګل هم ولاړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه الک ته ښه راغلاست و ویل.

الک هم مننه وکړه.

بیا آغا ګل زیاته کړه.
دلته پر نیمڅي کېنه!

الک پر نیمڅي کېناست.
بیا آغا ګل هغه ته لیک ورکړ او ویې ویل.
دا لیک ماته ولوله چې څه یې په کې لیکلي دي.

الک لیک واخیست او په لوستلو یې پیل کړ.
په لیک کې د آغا ګل له پاره ښه زېرى و.
هغه ډېر خوشحاله شو.
بیا یې خپلې ښځې ته و ویل:

اله (هله) تود چاى، توت او چارماغ (چهارمغز) راوړه.
هغې ژر چاى دم، توت او چارماغ یې هم راوړل.
ټولو چاى په خوند و څښل.

بیا الک و ویل:
کولاى شم دېرې ته لاړ شم؟

آغا ګل و ویل:
هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

مګر لږ صبر وکړه!
هغه ودرېد.

آغا ګل د هغه په جب (جیب) کې توت او چارماغ واچول.

الک مننه وکړه او د کلا نه و وت.
لمړی دېرې ته لاړ او د نورو همزولو او کوشنیانو سره په لوبو بوخت شو.

سبا وختي آغا ګل د هغه کس د لیدو له پاره لاړ، کوم چې نوې دنده یې د سرخکانو سیمې د لارې حق (حق العبور) کې اخیستې وه.
دا حق العبور د سوداګرۍ وزارت پورې اړوند (تړلی) و.
د آغا ګل ملګری الته د حق العبور د مدیر په توګه نوی ګمارل شوی و.

آغا ګل په پښو سرخکانو ته لاړ.
الته یې له یوه کس نه د مدیریت دفتر پوښتنه وکړه.
کس و ویل:
دغه کوټه وینئ!
آغا ګل و ویل:
هو!
هغه کوټه په خپله د مدیریت دفتر دی.
آغا ګل ډېر خوشحاله او دروازې ته نږدې شو.

الته یوه کس پرڅوکۍ د باندې ناست و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



......................................................................

آغا ګل کس ته نږدې او ويې ويل:
مدير صيب شته؟
کس و ويل:
هو!
آغا ګل و ويل:
کولای شم د هغه سره وګورم؟
کس و ويل:
ته څوک يې او د څه له پاره ور سره وينې؟
آغا ګل و ويل:
ورته و وايه چې آغا ګل راغلی دی، غواړي چې د تاسره و ګوري.
کس و ويل:
ته څو دکيکې دلته انتظار وکړه.
هغه ومنه او ودرېد.
کس د ننه شو او پيغام يې مدير ته ورساوه.
مدير و ويل:
ورته و وايه چې راشي.

کس د باندې شو، او ويې ويل:
ځه!
د ننه شه!

آغا ګل هم د ننه شو.
مدير له خپل ځايه پاڅېد او د آغا ګل سره يې روغبړ وکړ.
بيا يې هغه ته و ويل:
دلته پر څوکۍ کېنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغا ګل پر څوکۍ کېناست.

مدير پر چايچي غږ کړاو ويې ويل.
آغاګل ته شين چاى راوړه.
څو دکيکې وروسته چايچي، چاى راوړ.
د آغا ګل پياله يې ډکه کړه او بيا وروسته يې مدير او نورو مامورينو ته چاى و ويشه.
يوه چکۍ توره ګړه (ګوړه) يې له کڅوړې راواخيسته او پر ميز يې کېښوده.
بيا يې د ګړې ماتولو تيږه واخيسته او ګړه يې څو ټوټې کړه.
ګړه يې په غاب کې واچوه او د آغا ګل مخې ته يې کېښوده.

آغا ګل د چاى په څښلو پيل کړ.

مدير هم د خپل په کارنو بوخت شو.
لږ وروسته يې پر آغا ګل غږ کړ او ويې ويل:
په څه کار او بار بوخت يې؟
هغه و ويل:
**صيبه!**
اوزګار يم.
او هيڅ کار نه لرم.

بيا مدير و ويل:
غواړې چې زما سره کار وکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

......................................................................

هغه و ویل:
هو!
څه کار وکړم.

مدیر و ویل:
دلته د پېښور نه  د مېوې او نورو کاروبار(تجارتي مالونو) موټر راځي او ځي، ته به يې ګورې چې په موټر کې څه بار، له کومې خوا راغلی او چېرته ځي.
همدا راز ته به د هغه د دریور سره یوځای راځې.
کوم وخت يې چې د ټکس پیسې تحویلې کړې، بیرته به ور سره ځې او د حق العبور پولیس ته به وایې چې دغه دریور پارچه کړې او ورته اجازه ورکړه چې لاړ شي.

هغه و ویل:
سمه ده!

بیا مدیر و ویل:
دلته مونږ ټول د شپې او ورځې کار کو، ته هم خپله بستره او جامې راوړه.
ته کولای شئ چې خپل کټ هم راوړې.

آغا ګل ډېر خوشحاله شو.
بیا یې مدیر ته و ویل:
دا کار خو به د تل له پاره وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیر وخندل او ویې ویل:
نه!
په دې نړۍ کې هیڅ کار تل  د پاره نه وي.
هر کار پای لري.
تر څو چې زه دلته یم، ته به هم زما سره وې.

آغا ګل خوشحاله شو.
هغه و ویل:
اوس کولای شم چې کور ته لاړ شم او خپله بستره او څه کالي راوړم؟
مدیر و ویل :
سمه ده!
لاړ شه!
سبا وختي  راشه.

آغا ګل د مدیر نه خدای پاماني واخیسته او د دفتر نه و وت.
په لاره کې به یې له ځانه سره ویل:
شکر خدایه!
په رښتیا چې ډیر مهربانه یې.
زما هیڅ باور نه راته چې ما بې زده کړي ته کومه دنده په دولت کې پیدا شي.
خو الله مهربانه شو.
مدیر ته دې خدای خیر ورکړي.
زه به هم هغه او دولت ته په خورا مینه او صداقت کار وکړم.
بیا یې په سوچونو پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................

لمړۍ تنخوا مې چې واخیسته کوټې ته به پرې ګیلم واخلم، ځکه چې د کوټې نیمځی خورا زوړ شوی او ځو ځایه پیوند شوی هم دی.
مونږ د میلمنو په راتګ ډېر شرمیږو.
هر څوک ځانته سیال او شریک لري.
لور مې هم مخ په پیغلتوب ده.
که چېرې رایباران راشي، کېدای شي زمونږ پر نیمځي و خاندي.
بیا به رایبارۍ ته را نه شي.
هغوی به نورو ته و وایې.
زمونږ لور به کور کې زړه شي.
په سوچونو، سوچونو کور ته ورسېد.
لمړی دېرې ته او بیا د جومات مخې ته لاړ.
څوک نه و.
هرڅوک په خپل کارونو بوخت ول.
بیا ویالې ته نږدې شو.
لاسونه یې بډ وهل.
مخ اولاس یې پرېمنځه.
بیا ودرېد.
پایڅې یې بډ وهې او په ویاله کې ګډ شو.
څو ګامه یې واخیستل.
بیا د ویالې ژۍ ته نږدې شو.
خپلې څپلۍ یې رانږدې کړي.
بیا یې په پښو کړې او کور خوا ته روان شو.
کلا ته ننوت.
په خوشحالۍ سره خپل کوچني انګړ ته د ننه شو.
ماشومان یې ور نږدې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

هغه ته ښه راغلاست و وایه.
هغه هم مننه وکړه.
په دې وخت کې د هغه ښځه د تناره په سر ناسته او ډوډۍ یې پخوې.
هغه تناره ته نږدې او ښځې ته یې و ویل:
الله مهربانه ذات دی.
ښځې یې و ویل:
بې له شکه!
بیا یې و پوښتل:
څنګه نن خوشحاله ښکارې؟

آغا ګل و ویل:
ما دنده تر لاسه کړه.

هغې و ویل:
چېرته او څنګه؟

آغا ګل و ویل:
په سرخکانو کې د مدیر صیب سره.

هغه هم خوشحاله شوه او ویې ویل:
کله به دنده پیلوې؟

هغه و ویل:
سر له سبا نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې یې و ویل:
څومره ښه!
چا ته مه وایه چې د سترګو(نظر) دې نه کړي.
هغه و ویل سمه ده.
بیا یې زیاته کړه.
کالي دې هم خیرن دي.
د ډوډۍ پخولو نه وروسته به درته په تناره کې هغه غټ مسین دېګی کېږدم، بیا به ستا کالي وربانديې پرېمنځم.

آغا ګل خوشحاله شو او ویې ویل:
دا خو ښه کار دی، خو زه یوه بستره هم د ځانه سره وړم.
ښځې یې و ویل:
په بستره څه کوې؟

هغه و ویل:
د شپې په کې ویده کېږم.

بیا هغې زیاته کړه.
ستا د با لښت او توشکې پوښ هم خیرن دي، هغه به هم پریمنځم.

آغا ګل و ویل:
سمه ده!
دا به ډېر ښه کار شي.
البته څه نور کسان هم شته.
کېدای شي د هغوي بسترې پاکې وي، او زما پر بسترې وخاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

ښځې یې و ویل:
هو!
هرو مرو به خاندي.
بیا یې زیاته کړه؛
د تنخوا اندازه یې در ته و ویل؟
هغه و ویل:
نه!
تر اوسه څرګنده نه ده.
الله مهربانه ذات دی.
د هیڅ نه به ښه وي.

آغا ګل و ویل:
په دې وخت کې هغو کسانو ته چې زده کړې یې کړي دي، چېرې کار پیدا کیږي، بیا زما له پاره چې بې زده کړو یم.
د خلکو په وینا:
الف ته ډانګ او بې ته، تورزین وایم.

بیا ښځې یې و خندل.
نن ټوکي شوې یې.
کاش کې پخوا هم داسې ټو کي وای.

آغا ګل و ویل:
د سړي چې خیټه تشه وي، سړي ته خندا هم نه راځي.
خلک وایې:
څه د مړې خېټې پاړسی وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیټه چې مړه وي، بیا فکر او عقل هم سم کار کوي.

ماښام شو.
شپه یې په خوشحالۍ سره تېره کړه.

آغا ګل سهار وختي له خوبه پاڅېد د اوداسه له پاره د باندې و وت.
په ویالې کې یې اودس وکړ بیا جومات ته دننه شو.
لمونځ یې په جمع ادا بیا بېرته، کور ته د ننه شو.
چای یې وڅښه.
بیا یې بستره واخیسته او شا ته یې واچوه.
له ټولو ماشومانو او ښځې نه یې خدای پاماني واخیسته او د انګړه و وت.
لږ ځنډ وروسته له کلي هم و وت.
هغه مخ په سرخکانو روان شو.
یوه ګړۍ وروسته سرخکانو ته ورسېد.
خپله بستره یې د خوب خونې کې د ننه کړه او په یوه کنج کې یې کېښوده.
بیا د کوټې نه د باندې او د مدیر دفتر ته د ننه شو.
هغه مدیر او نورو مامورینو ته سلام ورکړ.

هغوی هم د آغا ګل سلام ته وعلیکم و ویل.
بیا مدیر آغا ګل ته د چای څښلو بلنه ورکړه.
آغا ګل مننه وکړه او ویې ویل:

ما په کور کې چای څښلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او س زه د کار له پار چمتو یم.
و وایه!
څه کار و کړم؟

مدیر و ویل:
ستا دنده ډېره آسانه ده.

آغا ګل و ویل:
کومه ستونزه نه شته.

بیا مدیر زیاته کړه.
ته به د سړک غاړې ته څوکۍ کېږدې او د بابری لاریو ننداره به کوې، کوم چې له پاکستان هېواده بار راوړي.
ته به یې ګورې چې څه یې بارکړي دي.
بیا د هغه د چلونکي او یا هغه څوک چې د بار اسناد راوړی یو ځای راشئ، چې درواغ و نه وایې.
هغه و ویل سمه ده.

مدیر و ویل:
اوس څوکې له دفتره واخله او په خپل کار پیل کړه.

آغا ګل څوکۍ واخیسته، د سړک پر غاړې یې کېښوده او د موټرو ننداره یې پیل کړه.
هغه به هر باروړونکې لارۍ ته پاس خوت او زیر سره به یې کاته چې څه او څومره یې بار کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به د لارۍ اسنادو سره د مدیر میز ته حاضرېده او د بار څرنګوالی به یې مدیر او یا اړونده مامور ته بیاناوه.
هغه په ایماندارۍ سره خپله دنده تر سره کوه.

میاشت پوره شوه.
تنخواه ګانې ورسېدې.

آغا ګل هم د لمړي ځل له پاره د دولت نه تنخواه تر لاسه کړه.
د هغه تنخوا ۳۵۲ افغانۍ وه.

هغه خپله تنخوا د نقدي معتمد نه واخیسته او په جدول کې یې د لمړي ځل له پاره په رنګ شوې ګوته کېښوده.

معتمد ورته و ویل:
آغا ګل خانه!
پیسې دې وشمېره چې قناعت دې حاصل شي.

آغا ګل په خندا شو او ویې ویل:
پوره دي.
تا چې شمېرې، ما هم حسابوې.

معتمد په خندا شو او ویې ویل:
خورا زیرک او هوښیار یې.
بیا یې زیاته کړه.
د کوم ځای یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:
سړی د کوم ځای وي؟
د لغمان یم.

معتمد سر وخوزاوه او ښه یې و نه ویل.

څو ورځې نورې تېرې شوي.

آغا ګل مدیر ته و ویل:
کولای شم د یوې شپې له پاره کور ته لاړ شم.
غواړم چې یوه کوچنی ټغر او څه سودا د کور له پاره واخلم.

مدیر و ویل:
سبا پنجشمبې ده او د موټرو ټک راتګ هم کمېږي.
ته کولای شئ، کورته لاړ او د جمعې په مازیګر بېرته راشئ.

آغا ګل و منه او ډېر خوشحاله شو.

د پنجشمبې (پنجشنبې) ورځ راورسېده او آغا ګل هم د وعدې سره سم کور ته لاړ.
هغه یوه ګړی وروسته کور ته ورسېد.
دېرې کې د کلي ځینې کسانو هغه ته ښه راغلاست و وایه.
هغه بیا کلي ته د ننه شو.
د ماشومانو یې سترګې پرې ولګېدې.
په منډو د هغه خواته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغا ګل به هم د هغوی سرونه او مخونه مچول.
بیا یې ښځه انګړ ته راغله او هغه ته یې ښه راغلاست  و وایه.

آغا ګل هغې نه مننه وکړه.
هغه انګړ کې پر کټ کېناست او خپلې ښځې ته یې و ویل:
مدیر دې خیر یوسي.
دا دی تنخواه مې هم واخیسته.

ښځې یې و ویل:
څوشلې دي؟
هغه و ویل:
اوولس نیم شلې او دوې افغانۍ دي.

هغه ډېره خوشحاله شوه او مدیر ته یې دعا وکړه.

آغا ګل شپه په کور تېره او سهار وختي د سودا اخیستو له پاره ولایت بازار ته روان شو.
هغه لمړی ټغر او بیا د کور سودا واخیسته.
تر یوه ځای پورې یې په موټر بیا په پښو کور ته روان شو.
هغه لږه غوښه هم اخیستې وه.
هغه تر مازیګره کور کې و.
بیا مازیګر بېرته د دندې خوا روان شو.
هغه پوره پنځه کاله پر دندې بوخت و.
پنځه کاله وروسته مدیر بېرته کابل ښار ته تبدیله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

..........................................................................

هغه د راتګ په وخت کې له ټولو مامورينو او کارکونکو نه خدای پاماني واخيسته.
هغه زياته کړه.
تاسو خپلو دندو ته دوام ورکړئ.
ډېر ژر به نوی مدير راشي.
څرنګه مو چې زما سره مرسته کوله، د نوي مدير سره يې هم مرسته وکړئ.
مونږ ټول هېواد له پاره، دولت سره کار کوو.
بيا آغا ګل د هغه د کاليو کڅوړه واخيسته او د موټر تر تم ځايه پورې يې ويوړه.
په تم ځای کې هغه ته دولتې موټر ولاړ و.

مدير بيا له ټولو نه خدای پا ماني واخيسته او موټر ته و خوت.
هغه د موټر او کارکونکو د باندې نه لاسونه خوزول، تر څو چې موټر لرې اود سترګو نه پنا شو.

دوې ورځې تېرې شوې.
نوی مدير راغی.
پر دنده يې پيل کړ.
هغه رسمي مامورين تبديله او اجيرو کارکونکو ته يې ځواب ورکړ، په عوض کې يې خپل کسان و ګمارل.

آغا ګل هم خپله دنده له لاسه ورکړه او بېرته خپل پخواني کسب او کار ته مخه وکړه.
څو موده تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته يې رايباران راغلل.
خپله لور يې کوژده بيا يې واده کړه.
خپل زوی ته يې هم واده وکړ.

په هېواد کې حالات کړکېچن شو.
نارامې ډېره شوه.
هرې خوا به د مجاهدينو او دولتي عسکرو تر منځ جګړه کېده.
په دې وخت کې حکومت چارې د نور محمد ترکی تر مشرۍ لاندې وې، کوم چې د پخواني شوروي اتحاد له خوا يې ملاتړ کېده.

د کلي خلک هم خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوو.
ډېری يې پاکستان هېواد ته مهاجر شوو.

آغا ګل هم د کلي و وت او د خپلې لور کور خوا ته چې ښاري سيمه وه، کډه شو.

ډيرش کاله تېر شو.
زه د هغه د استوګنې لمړني کلی ته لاړم.
د هغه کلي سپين ږيري هم وفات شوي وو.
ځوانانو هغه نه پيژاندېده.
بيا يوه کس ما ته د يوې بوډۍ ښځې ادرس را کړ.
زه الته لاړم.
هغه مې پيدا او د آغا ګل په اړه مې ترې تپوس وکړ.
هغې و ويل:
دا د ډېر پخوا زمانې سړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

........................................................................

دومره پوهېږم چي هغه اوس وفات شوی دی.
ښځه، اولادونه يې تر اوسه ژوندي او د قرغيو ولسوالۍ په چارباغ سيمې کې ژوند کوي.

بيا مې و پوښتل:
د چار باغ په کومه سيمې کې ژوند کوې چې د نږدې يې و ګورم.

هغي و ويل:
نه پوهېږم.

بيا مې زياته کړه.
کوم بل کس پو هېږي؟

هغې و ويل:
نه!
اوس هر څوک خپلو خولو کې ډوب دی.

داسې خبرو پسې څوک نه ګرځي لکه ته.

د هغې نه مې مننه وکړه.
بيا مې ترې خدای پاماني واخيسته او روان شوم.

څو ورځې هغه د کورنۍ پسې په چار باغ کې و ګرځېدم.
چا ما ته هغه د کورنۍ درک او ادرس را نه کړ.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید اانستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................................................

۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو ښونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

......................................................................

**د کار لاندې کتابونو لېست**

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٢. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٣. لیونی لېوه
٤. کوشنۍ سوداګره
٥. سپین کارغه
٦. سور تنور
٧. خېره بیزو
٨. بندي مرغه
٩. توده برستن
١٠. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زده کړې پوی

........................................................................

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Uneducated sage

Written by:
Architect PHD
Hashmatullah Atmar

December-2024/January -2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**